# د پښتو د املايي توپيرونو تحقيقي او تنقيدي جايزه

# A Research and Critical Study of Orthographic Variations of Pashto

Noor Muhammad Khan[1]
**Phone#** +923138552428
**Email:** noormk649@gmail.com

Issn 2304-1463

**Abstract:**
Besides the differences in individual's writing, Pashto has four major variations in its contemporary orthography leading to four forms of orthographies. The article investigates these variations. There are seventeen major differences that make these forms distinct from each other. The first one is orthography of curriculum of Afghanistan, other one is Kandahar's version of orthography, third one is orthography of *Bara Galai* and lastly the orthography of Pashto Academy Quetta.

**Keywords:** Orthography, orthographic variations, contemporary orthography,

د پښتو اوسني کتابونه که څوک وګوري نو ارو مرو به د املا له بېلا بېلو بڼو سره مخامخ کېږي. يو لفظ به وي خو چيرې به پکې د تورو استعمال يو رنګ شوی وي او چيرې په بل رنګ. زما د پښتو زدکړه چونکې رسمي نه وه بس دومره مې اورېدلي وو چې د پښتو (ګ) د اردو له (گ) سره دا توپیر لري چې د اردو (گ) په دوه کښه دی خو د پښتو (ګ) تر کښ لاندې کړۍ لري. يو ځل يو داسې کتاب سره مخامخ شوی وم چې (ګ) پکې د اردو په څېر په دوه کښه و، نو زما دا خيال شو چې د سړي املا لا سمه نه ده نو نور به يې څه خوند و رنګ وي، نو د هغه کتاب لوست له ما پاته شو. کله کله بيا د کتاب ليکوال خپلې سيمه ييزې او سياسي دلچسپيو دومره ټينګ نيولی وي چې پر کتاب يې د هغو منفي اغېزې خصوصاً پر املا يې هغه اثرات له ورايه ښکاره کېږي.

د املا تېروتنې او املايي توپيرونه که څوک ګوري نو پام يې ارو مرو يو څه شيانو ته وراوړي. املا چونکې په ټکو کې د تورو سمې کارونې ته وايي او املايي توپيرونه د دغه تورو په بېلا بېل ډول کارونې څخه رغېږي. دلته به د پښتو د اوسنۍ املا د کابل، پېښور، کندهار او کوټې کتابونه کتل کېږي او هغه توپيرونه به په ګوته کېږي کوم چې په دې کتابونو کې شته. په مجموعي توګه په پښتو کې دې لانديني اوولس ځايونو کې توپيرونو تر سترګو کېږي.

[1] Lecturer, Department Of Pashto, University Of Loralai

۱- په اوسني کتابونو کې چې تر ټولو زیات په توپیري بڼه کارول کېږي هغه دی د ظرفیت ټکی(کې)، چې ځوک یې (کي)، ځوک (کښې) او ځوک یې (کښي) لیکي. دا اصلاً د (ښ) او د (ي،ې) د کارونې مسله ده، داسې نور هم ډېر الفاظ شته چې تر (ک) وروسته (ښ) لري خو هغه خلک چې په لهجه کې یې د (ښ) غږ (خ) یا (خ،ک) ته نژدې دی، اوس په ویلو کې چونکې هغه دا (ښ) د (ک) وروسته یا خو وایي نه یا یې تر (ک) اړوي. لکه کښېنه، کښېوځي، کښېږده یا داسې نور، دا هغه الفاظ دي چې ځینې پښتانه یې (ښ) نه تلفظ کوي ځکه یې لیکي هم نه او کښلی، کښته یا داسې نور، دا هغه الفاظ دي چې (ښ) یې د درانه تلفظ له کبله خپل ځای بدلوي او تر (ک) له مخه کېږي.

۲- د ټکو په پای کې د (ي) او (ې) توپیري کارونه دویمه لویه وجه ده چې د بېلابېلو لیکوالانو لیکونه یو له بله د املا په لړ کې سره بېلوي. د پښتو عام قاعده ده چې هغه ښځینه نومونه او ستاینومونه چې په (ه) پای ته رسېږي د هغو جمع او اوښتی حالت په (ې) لیکل کېږي خو څه لیکوالان یې ځای په ځای په (ي) لیکي لکه کوځه – جمع/ اوښتې بڼه- کوځې، سترګه- جمع/ اوښتی حالت- سترګې/ سترګي.

۳- د ربط په الفاظو ( چې، مې، دې) کې د (ي) او (ې) کارونه.

۴- له (ی) سره د (الف) او (واو) غبرګ غږونه او د حکم ټکی (دی) په (ی) او (ئ) لیکل لکه خدای/ خدائ، دوی/ دوئ، ځای/ ځائ، مثلاً خدای لوی دی/ خدائ لوئ دئ/ خدای لوی دئ.

۵- د همزه(ء) کارونه د لفظ په پای او د لفظ په منځ کې د پښتو د لیکوالانو د لیکونو په منځ کې توپیر پیدا کوي. د لفظ په منځ کې یې ځوک کاروي او ځوک یې نه کاروي. لکه پایله/پائله، قایم/قائم، ایین/ ائین، د لفظ په پای کې یې هم دغه صورت حال دی لکه ارتقا/ ارتقاء، ابتدا/ ابتداء، املا/ املاء

۶- د نرمې یې (ی)دپاره دوه علامتونه کارول، چې یو علامت یې (ی) او بل د اردو د اوږدې یې(ے) رنګه دی.

۷- هغه لفظونه چې په اخر کې زورکی لري هغه هم په دوه ډوله لیکل کېږي ، یو د (ه) پر سر همزه ورکوي (ۀ) او بل یې بیا نه ورکوي لکه ښه/ښۀ

۸. د لفظ په منځ کې (ی) په دوه رنګه لیکل لکه ( خ+ی+ر) (خېر/خیر)، (خ+ی+ب+ر) (خېبر/خیبر) ، (م+ی+د+ا+ن) (مېدان/میدان)

۹. د فعل د مطلقې ماضي صیغه په بېلابېلو بڼو لیکل لکه کولو، کولی، کاوهٔ، کاوی

۱۰. د (ؤ)،(و)، (وو) او (وهٔ) بېلا بېله کارونه.

۱۱. په کومکي فعلونو کې د (ش) او (س) کارونه.

۱۲. د پښتو د پېښ الفاظ په پېښ یا په واو لیکل لکه غُنډې یا غونډې، خوله یا خُله لیکل.

۱۳. یو شه مخصوصه الفاظ چې د هغو بېلا بېلې بڼې د بېلا بېلو لهجو څرګندونه کوي هغه د خپلې لهجې رنګه لیکل او بل هغه ته په ښه نظر نه کتل لکه مځکه/ځمکه، موږ،/مونږ، غږ/ږغ.

۱۴. (ګ) په کږې او کښ لیکل چې دا البته د مراکزو سره کار نه لري، دا د یو څو کسانو شخصي دلیل دی چې (ګ) په کږې نه بلکې په دوه کښه لیکل پکار دی.

۱۵. دټکو په منځ کې د (ء) کارونه. د عربي، پارسي یا اردو قاعدې له رویه دا همزه دی خو چې موږ یې په پښتو کې لیکو نو په کیبورډ کې به یې د (ئ) په بڼه لیکو لکه وئیل، ائینه، ستائنه. دغه ټکي داسې هم وي ، ویل، اینه، ستاینه .

۱۶. ضمیر متصل (ئې) او د متکلم دپاره د حکم ټکی (یې) لیکل.

۱۷. د جمع نومونو اوښتی حالت بېلا بېل لیکل ؛ سرو/ سرېو، پردو/ پردیو

اوس به د دې نکتو پر بنسټ د پښتو د څلور مرکزونو املا وکتل شي او د هرې املا (دا د املا څلور تویېري بڼې دي چې د پښتو په کتابونو کې شته) مثال به ورکړل شي خو تر له مخه به یو پېراګراف داسې ولیکل شي چې په هغه کې دغه ټولې نکتې موجودې وي.

(موږ پښتانه یو بل ته په ښه زړه نه یو، دا مې لیدلي دي چې یو ورور دې د بل ورور سترګې ړندې کړي. د ښځې درناوی نشته، د زاړه قدر او پر واړه وسیله نشته. هر سړی داسې لګیا دی لکه دی چې د خلګو او د دوی په ستونزو خبر دی. په زړو کې سره غله یو. دا ځینې خلګ خو سړی لېوني کوي. د چا وینا ده چې د ارتقا پایله که له ابتدا وکتل شي نو هغه داسې نه ده، له میدانه ورکېدل نه دي. پیدا خیر د غیرت

په نوم بایللی نه دي. ویل یې چې په یوازې ځان که هر څو تکړه یې که ولس درسره مل نه و، پوهه درسره نه وه، خلک دې خواخوږي نه ول، خوله دې په خپل اختیار کې نه وه، پر هر چا دې غږ نه کولو، نه شې کولای ځمکه زرغونه کړې. که دې د وطن د ابادۍ کار کولو غږ به کوې. راشه چې خپل وطن اباد کړو. و یې پالو. که پر وطن مین یې له پردیو یې وژغوره.)

اوس به د املا د دې هرې برخې په هکله بحث کېږي او په پای کې به د نمونې په توګه دغه پورتنی پېراګراف په هغه رنګ لیکل کېږي.

(2.3.1) د برې پښتونخوا د نصاب املا

د برې پښتونخوا د نصاب املا په دې لاندې ډول بیانېدلای شي؛

۱- د ظرفیت ټکی د (کې) په بڼه لیکي

۲- هغه ښځینه نومونه او ستاینومونه چې په (ه) پای ته رسېږي د هغو جمع په (ې) لیکي.

۳- د ربط الفاظ (چې، مې، دې) لیکي.

۴- د (الف، واو) او (ی) غبرګ غږونه او د حکم ټکی (دی) په (ی) لیکي .

۵- د عربي او پارسي هغه الفاظ چې په پای کې (ء) لري هغه یې هم هغسې لیکلي دي لکه اولیاء، بل ځای یې همزه (ء) نه دی کارولی. هغه الفاظ چې منځ کې (ء) لري هغه په (ي) لیکي لکه قایم، سایل او نور

۶- د نرمې یې علامت یې (ی)دی.

۷- هغه لفظونه چې په اخر کې زورکی لري هغه په (ه) لیکي لکه زړه، چاړه

۸- د لفظ په منځ کې (ی) په (ي) لیکي لکه ( خ+ی+ر) (خیر)، (خ+ی+ب+ر) (خیبر)، (م+ی+د+ا+ن) (میدان)

۹- د فعل د مطلقې ماضي د واحد صیغه داسې لیکي ( کاوه)، جمع یې په (ل) لیکي لکه ( سرې کارونه کول).

„د الله د عبادت پر ځای یې د لمر، سپوږمۍ، اور او په خپل لاس جوړ شوو بتانو عبادت کاوه.„ (۱)

۱۰- د تېر مهال د حکم ټکی د واحد دپاره (و) او د جمع دپاره (وو) لیکي لکه ؛

„په ډېرو پخوا زمانو کې کتاب نه و.„ (۲)

،، د زېږېدو د ټاټوبي په هکله يې هم څېړونکي يوه خوله نه وو.،، (۳)

۱۱. په کومکي فعلونو کې د (ش) کارونه کوي، شو، شم، شوې او نور

۱۳. ځمکه،مورِ او غرِ لیکي.

۱۴. (ګ) يې په دوه کښه (ګ) لیکلی دی.

۱۵. دټکو په منځ کې د (ء) کارونه نه کوي او دغه الفاظ داسې لیکي لکه ویل، ستاینه.

۱۶. ضمیر متصل او د متکلم دپاره د حکم ټکی دواړه یو رنګه (یې) لیکي.

،، په عامه غونډه کې ودرېد او ویې ویل: که څوک له دوی څخه شکایت لري و دې یې وايي.،، (۴)

۱۷. د جمع نومونو اوښتی حالت داسې لیکي ؛ سرو، پردو

اوس له دې نکتو پس راځو هغه پورتنی پېراګراف د برې پښتونخوا د املایي بڼې په پلیټوب لیکو ؛

( مورِ پښتانه یو بل ته په ښه زړه نه یو، دا مې لیدلي دي چې یو ورور دې د بل ورور ستر ګې ړندې کړي. د ښځې درناوی نشته، د زاړه قدر او پر واړه وسیله نشته. هر سړی داسې لګیا دی لکه دی چې د خلګو او د دوی په ستونزو خبر دی. په زړونو کې سره غله یو. دا ځینې خلګ خو سړی لېونی کوي. د چا وینا ده چې د ارتقا پایله که له ابتدا وکتل شي نو هغه داسې نه ده، له میدانه ورکېدل نه دي. پیدا خیر د غیرت په نوم بایلل نه دي. ویل یې چې په یوازې ځان که هر څو تکړه یې که ولس درسره مل نه و، پوهه درسره نه وه، خلګ دې خواخوږي نه وو، خوله دې په خپل اختیار کې نه وه، پر هر چا دې غرِ نه کاوه، نه شې کولای ځمکه زرغونه کړې. که دې د وطن د ابادۍ کار کاوه غرِ به کوي. راشه چې خپل وطن اباد کړو. و یې پالو. که پر وطن مین یې له پردو یې وژغوره .)

(2.3.2) د پېښور املا ( باره ګلی)

د پښتو املا د وحدت او د املایي ستونزو د هوارولو دپاره پښتنو پوهانو وخت ناوخته غونډې کړې دي او هڅه یې کړې چې د پښتو املایي ستونزې ختم کړي. ډاکټر نصرالله جان وزیر په خپل کتاب ،، د پښتو لیک دود، دوه ورځنی مرکه،، کې په دې هکله لیکي چې؛

,, تر دا دمه د پښتو د لیک دود او د پښتو املائي مسائلو په حقله د پښتنو عالمانو او پوهانو څۀ اووۀ مرکې جوړې شوې دي.... د پښتو لیک دود په حقله وړومبۍ غونډه کال ۱۹۴۲ ء کښې په کابل کښې او اووۀ مه غونډه ئې کال ۱۹۹۰ ء کښې د پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون په اهتمام د پوهنتون د مني کېمپ یعني باړه ګلۍ کښې شوې ده.,, (۵)

ښاغلي لیکوال په هم دې کتاب کې دا دعوه په ډاګه کړې ده چې؛

,, د باړه ګلۍ سیمینار په کال ۱۹۹۰ء کښې د پېښور پوهنتون تحت شوے وۀ، د هغه وخت نه را په دېخوا اوس هر یو کتاب په هم دې لیک دود کښې چاپ کېږي. ,, (۶)

ډاکټر شبیر زمان تایزي د باړه ګلۍ د سیمینار په هکله ویلي دي چې؛

,, د جولاۍ ۱۹۹۰ء د سیمینار فېصلې په حقیقت کښې د هغه فېصلو تجدید وۀ چې اپریل ۱۹۵۷ء کښې د افغانستان او پاکستان ادیبانو او شاعرانو کړې وې.,, (۷)

د باړه ګلۍ د سیمینار پس د پېښور د لیکوالانو د کتابونو املا، هم دغه د باړه ګلۍ د سیمینار د پرېکړو مطابق شوه او لا تر اوسه ده، چې له قلندر مومند او مشتاق مجروح یوسفزي چې د زورکي د (ۀ) او د معدوله واو په هکله ورسره اختلافات لري. په عمومي توګه د دوی املا په دې رنګ ده؛

۱۔ د ظرفیت ټکی د (کښې) په بڼه لیکي.

۲۔ هغه ښځینه نومونه او ستاینومونه چې په (ه) پای ته رسېږي د هغو جمع په (ې) لیکي.

۳۔ د ربط الفاظ ( چې، مې، دې) لیکي.

۴۔ د (الف) او (ی) غبرګ غړونه او د حکم ټکی (دی) په (ے) لیکي خو د (واو) غبرګ غړونه په ( ي) ( دوي، هغوي) لیکي.

,, ډاکټر نصرالله جان وزیر اووئیل چې په دې کښې دواړو لهجو یعني خټک/قندهاري او یوسفزۍ لهجو ته اختیار ورکړے شوے ، چې هغوي د خپلو لهجو مطابق د دې لیک او ادائیګي کولے شي. ,, (۸)

۵- د عربي او پارسي هغه الفاظ چې په پای کې (ء) لري هغه هم هغسې لیکي لکه اولیاء. هغه الفاظ چې منځ کې (ء) لري هغه هم په همزه لیکي لکه قائم، سائل او نور

۶- د نرمې یې علامت یې (ے)دی.

۷- هغه لفظونه چې په اخر کې زورکی لري هغه په (ۀ) لیکي لکه زړۀ، چاړۀ

۸- د لفظ په منځ کې (ی) په (ې) لیکي لکه ( خ+ی+ر) (خېر)، (خ+ی+ب+ر) (خېبر)، (م+ی+د+ا+ن) (مېدان)

۹- د فعل د مطلقې ماضي د واحد صیغه داسې لیکي ( کاوۀ)،جمع یې په (ل) لیکي لکه ( سړي کارونه کول).

۱۰- د تېر مهال د حکم ټکی د واحد دپاره (وۀ) او د جمع دپاره (وو) لیکي.

۱۱- په کومکي فعلونو کې د (ش) کارونه کوي، شو، شم، شوې او نور

۱۳- ځمکه،مونږ او غږ لیکي.

۱۴- (ګ) په کړی (ګ) لیکي.

۱۵- دټکو په منځ کې د (ء) کارونه کوي او دغه الفاظ داسې لیکي لکه ، ستائنه، نمائنده. ویل په (ئ) او (ې) وئېل او وینا په (ې) وېنالیکي.

۱۶- ضمیر متصل او د متکلم دپاره د حکم ټکی دواړه یو رنګه (ئې) لیکي.

۱۷- واو که د لفظ په شروع کې د زور له حرکت سره راشي او سېلاب خج ولري نو ورسره الف هم لیکي لکه اوشو، اووئېل.

۱۸. د جمع نومونو اوښتی حالت داسې لیکي ؛ سړو، پردو

اوس له دې نکتو پس راځو هغه پورتني پېراګراف د پېښور د باړه ګلۍ په املا کې ولیکو ؛

( مونږ پښتانۀ یو بل ته پۀ ښۀ زړۀ نۀ یو، دا مې لیدلي دي چې یو رور دې د بل رور سترګې ړندې کړي. د ښځې درناوے نشته، د زاړۀ قدر او پر واړۀ وسیله نشته. هر سړے داسې لګیا دے لکه دے چې د خلګو او د دوي په ستونزو خبر دے. په زړونو کښې سره غلۀ یو. دا ځیني خلګ خو سړے لېونے کوي. د چا وېنا ده چې د ارتقاء پائله که له ابتداء اوکتل شي داسې نۀ ده، له مېدانه ورکېدل نۀ دي. پېدا خبر د غېرت په نوم بائیلل نۀ دي. وئیل ئې چې په یوازې ځان که هر څو تکړه ئې که اولس درسره مل نۀ وۀ ، پوهه درسره نۀ وه،خلګ دې خواخوږي نۀ وو، خولۀ دې په خپل اختیار

کښېنې نهٔ وه، پر هر چا دې غږ نهٔ کاوهٔ نهٔ شې کولای ځمکه زرغونه کړې. که دې د وطن د ابادۍ کار کاوهٔ غږ به کوې. راشه چې خپل وطن اباد کړو. او ئې پالو. که پر وطن مئین ئې له پردو ئې اوژغوره .)

(2.3.3 ) د کندهار املا

۱. د ظرفیت ټکی د (کې) په بڼه لیکې.

۲. هغه ښځینه نومونه او ستاینومونه چې په (ه) پای ته رسېږي د هغو جمع کله په (ي) لیکې او کله یې په (ې). کله چې د ښځینه لفظ چې په (زور/ فتحه) پای ته رسېږي او تر اخري سېلاب د مخنی سېلاب یې خج یا فشار ولري نو د جنوب په لهجه کې هغه لفظ په (ي) جمع کېږي. لکه لفظ (ښځه ) کې پر (ښ) زورکی دی او فشار یې پیدا کړی دی، (په پښتو کې هر کله د زورکي سېلاب خجن وي) ځکه یې جمع په (ي) (ښځي) کېږي. که خج پر اخري سېلاب وي نو بیا یې دوی هم لکه د نورو په (ې) جمع کوي لکه ترانه – ترانې دلته خج پر اخري سېلاب (ن) دی . یو بل مثال یې موږ داسې ورکولای شو چې یو لفظ دی (غوټه) چې دوې څپې لري او د خج د ځای په بدلون یې معنا هم اوړي، که یې فشار پر لومړۍ څپه (غو) باندې وي نو معنا یې ده یو شی تړل، رسۍ ته غوټه ورکول او که یې فشار پر دویمه څپه (ټه) وي نو بیا یې معنا ده په اوبو کې غوټه وهل، ور ټوپ کول. که یې خج پر لومړۍ څپه و نو د کندهار په لهجه کې یې جمع (غوټي) ویل کېږي او که پر اخري څپه و نو یې جمع د دوی په لهجه کې (غوټې) ویل کېږي. دې خبرې ته ګل بدین حکمتیار هم په خپل کتاب ,, لیکدود ,, کې داسې اشاره کړې ده؛

,, که تر هې مخکې توری زورکی ولري، په جمع کې دا زورکی په زېر بدلېږي او د هې په ځای څرګنده (ي) راځي لکه ښځه ښځي، کونډه کونډي، ژبه ژبي او که تر هې مخکې توری زور ولري زور ئې په زورکي بدلېږي او د هې په ځای اوږده (ې) راځي؛ لکه څپه څپې، رنده رندې، خوږه خوږې، شپه شپې.,, (۹)

د ښاغلي حکمتیار څخه دلته دا غلطي شوې ده چې ده خج، سېلاب او زورکی و زور سره ګډ وډ کړي دي. په لفظ ښځه کې پر (ځ) زورکی نه بلکې زور دی خو دوی یې

زورکی یادوي. په دې لفظ کې زورکی پر ( ښ) دی ځکه خو خج هم پر لومړۍ څپه دی او اخري څپه سپکه ده چې له کبله ئې جمع په (ي) ښځي کېږي.

۳. د ربط الفاظ ( چي، مي، دي) لیکي او (چې، مې ،دې ، کې ) د ( چي یې، مي ئې، دي ئې ، کي یې) لنډیز بولي لکه محمد معصوم هوتک چې لیکي؛

,, په اوسني مروج لیکدود کي دغه ضمیرونه په اوږده (ې) لیکل کېږي او په لوېدیځه لهجه کي په لنډه (ي). د لوېدیځي لهجې له قاعدې سره سم ، چي ځیني کسان ئې ,,بېقاعدګي,, بولي! که په اوږده (ې) ولیکل سي، د معنا بدلون پېښوي او چې = چي ئې، کې=کي ئېو مې= مي ئې معنا ښندي.,, (۱۰)

۴. د (الف) او (واو) غبرګ غږونه په (ی) خو د حکم ټکی (دی) په (ئ) لیکي .

,, (دی) د (ده) لپاره، او (دئ) د ده د حالت بیانولو لپاره، لکه: دی ښه لیکوال دئ.,, (۱۱)

۵. د عربي او پارسي هغه الفاظ چې په پای کې (ء) لري هغه ئې هم هغسې لیکلي دي لکه اولیاء. هغه الفاظ چې منځ کې (ء) لري هغه په (ي) لیکي لکه قایم، سایل او نور

۶. د نرمې ئې علامت یې (ی)دی.

۷. هغه لفظونه چې په اخر کې زورکی لري هغه په (ه) لیکي لکه زړه، چاړه

۸. د لفظ په منځ کې (ی) په (ي) لیکي لکه ( خ+ی+ر) (خیر)، (خ+ی+ب+ر) (خیبر)، (م+ی+د+ا+ن) (میدان)

۹. د فعل د مطلقې ماضي د واحد صیغه داسې لیکي ( کولو)،جمع ئې په (ل) لیکي لکه ( سړي کارونه کول).

۱۰. د تېر مهال د حکم ټکی د واحد دپاره (و) او د جمع دپاره (وو) لیکي.

۱۱. په کومکي فعلونو کې د (س) کارونه کوي، سو، سم، سوې او نور

۱۳. مځکه،موږ او ږغ لیکي.

۱۴. (ګ) په دوه کښه (ګ) لیکي.

۱۵. دټکو په منځ کې د (ء) کارونه نه کوي او دغه الفاظ داسې لیکي لکه ، ستاینه، نماینده. ویل او وینا په (ي) لیکي لکه ویل، وینا

۱۶. ضمیر متصل (ئې) او د متکلم دپاره د حکم ټکی (یې) لیکي، ګل بدین حکمتیار دې ته داسې ګوته نیولې ده؛

,, ئې او یې باید تفکیک کړو، لکه دا: کتاب یې ولوست، ته به لیکوال یې. دواړه په یوه ډول لیکل صحیح نه دي.,, (۱۲)

۱۷. د جمع نومونو اوښتی حالت داسې لیکي ؛ سړیو، پردیو

( موږ پښتانه یو بل ته په ښه زړه نه یو، دا مي لیدلي دي چې یو ورور دي د بل ورور سترګي ړندې کړي. د ښځي درناوی نسته، د زاړه قدر او پر واړه وسیله نسته. هر سړی داسي لګیا دئ لکه دی چې د خلګو او د دوی په ستونزو خبر دئ. په زړو کي سره غله یو. دا ځیني خلګ خو سړی لېوني کوي. د چا وینا ده چې د ارتقاء پایله که له ابتداء وکتل سي نو هغه داسي نه ده، له میدانه ورکېدل نه دي. پیدا خیر د غیرت په نوم بایلل نه دي. ویل ئې چې په یوازي ځان که هر څو تکړه یې که اولس درسره مل نه و، پوهه درسره نه وه، خلګ دي خواخوږي نه ول، خوله دي په خپل اختیار کي نه وه، پر هر چا دي ږغ نه کاوه نسي کولای مځکه زرغونه کړې. که دي د وطن د ابادۍ کار کاوه ږغ به کوي. راسه چي خپل وطن اباد کړو. و ئې پالو. که پر وطن مین یې له پردیو ئې وژغوره .)

(2.3.4) د کوټې د پښتو اکېډمۍ املا

د کوټې د پښتو اکېډمۍ املا د برې پښتونخوا د نصاب سره دومره ورته والی نه لري لکه څومره چې د کندهار او د باړه ګلۍ املا ته ورته ده بلکې که دا وویل شي سمه به وي چې د کوټې د پښتو اکېډمۍ املا د کندهار او د باړه ګلۍ د املا په منځ کې یوه بله داسې املا ده چې د دواړو څه نا څه رنګ پکې شته. لکه د زورکي علامت (ۀ) او د ظرفیت په ټکې (کې) کې یې (ښ) د باړه ګلۍ خو (ي) د کندهار په څېر ده او (کښې) یې لیکي. او د زور (ه) د ښځینه الفاظو جمع هم د جنوب د لهجې په رنګ کله په (ي) او کله یې بیا (ې) کوي.(چې،مې،دې) هم د کندهار په بڼه (چي، مي،دي) لیکي. موږ، مځکه او ږغ د کندهار په څېر لیکي خو د فعل (ش) بیا د باړه ګلۍ او د کابل د نصاب په څېر لیکي. د املا علمي بحث پر خپل ځای، د خیر سګالي دپاره دا یو ښه ګام دی، خو که د برې پښتونخوا د نصاب د املا څخه هم یو دوې نکتې خپلې کړي.د

پښتو اکېډمۍ کوټې پخوانی صدر سیّد خیر محمد عارف صاحب د ،، لیکني،، مجلې د املا نمبر په اداریه کې د خیر سګالۍ دا پیغام په دې ټکو کې وړاندې کوي؛

،، مطلب مې دا دی چې زموږ مرحومینو مشرانو د باړه ګلۍ او د کابل په کانفرنسونو کښې اکثره ستونزې د پښتو او پښتونوالې په خاطر حل کړې دي، اوس که له وخته سره یوه نیمه ستونزه پیدا هم شي بايد هغه ته علاقائي رنګ ورکولو پر ځای د قام او ژبې د يووالې په تناظر کښې وکتل شي او قصداً د (سو) او (شو) د سترګو او سترږو د پختو Paxto او پښتو Pashto په نامۀ د افتراق پیدا کولو د کوشش غندنه او د یوې لهجې پر دا بله باندې د تپلو ځخه ډډه وشي او د لهجو پر اساس د قبیلوي او علاقائي شخړو د پیدا کولو د لارې مخنیوی په افهام او تفهیم سره وشي، هم دغه د قام د یووالې، بقا او د پښتو ژبې د پرمختګ لاره ده.،، (۱۳)

د کوټې د پښتو اکېډمۍ املا په لنډو ټکو کې داسې بیانېدلای شي؛

۱. د ظرفیت ټکی د (کښې) په بڼه لیکي.

۲. هغه ښځینه نومونه او ستاینومونه چې په (ه) پای ته رسېږي د هغو جمع کله په (ي) او کله یې په (ې) لیکي.

۳. د ربط الفاظ (چي، مي، دي) لیکي.

۴. د (الف) او (واو) غبرګ غږونه او د حکم ټکی (دی) په (ی) لیکي .

۵. د عربي او پارسي هغه الفاظ چې په پای کې (ء) لري هغه هم هغسې لیکي لکه اولیاء. هغه الفاظ چې منځ کې (ء) لري هغه هم په همزه لیکي لکه قائم، سائل او نور

۶. د نرمې یې علامت یې (ی) دی.

۷. هغه لفظونه چې په اخر کې زورکی لري هغه په (ۀ) لیکي لکه زړۀ، چاړۀ

۸. د لفظ په منځ کې (ی) په (ي) لیکي لکه ( خ+ی+ر) (خیر)، (خ+ی+ب+ر) (خیبر)، (م+ی+د+ا+ن) (میدان)

۹. د فعل د مطلقې ماضي د واحد صیغه داسې لیکي ( کاوۀ)، جمع یې په (ل) لیکي لکه ( سړي کارونه کول).

۱۰. د تېر مهال د حکم ټکی د واحد دپاره (ؤ) او د جمع دپاره (وو) لیکي.

۱۱. په کومکي فعلونو کې د (ش) کارونه کوي، شو، شم، شوې او نور
۱۳. مځکه، موږ او ږغ لیکې.
۱۴. (ګ) په کړی (ګ) لیکې .
۱۵. دټکو په منځ کې د (ء) کارونه کوي او دغه الفاظ داسې لیکي لکه ، ستائنه، نمائنده. ویل په (ئ او ي) لیکي لکه وئیل،
۱۶. ضمیر متصل په (ئې) او د متکلم دپاره د حکم ټکی (ئې) لیکي.
۱۷. د جمع نومونو اوښتی حالت داسې لیکي ؛ سړیو، پردیو

اوس له دې نکتو پس راځو هغه پورتنی پېراګراف د پښتو اکېډمی کوټې په املا ولیکو ؛

( موږ پښتانهٔ یو بل ته په ښهٔ زړهٔ نهٔ یو ، دا مي لیدلي دي چي یو ورور دي د بل ورور سترګي ړندي کړي. د ښځي درناوی نشته، د زاړهٔ قدر او پر واړهٔ وسیله نشته. هر سړی داسي لګیا دی لکه دی چي د خلګو او د دوی په ستونزو خبر دی. په زړو کښې سره غلهٔ یو. دا ځیني خلګ خو سړی لېونی کوي. د چا وینا ده چي د ارتقاء پائله که له ابتداء وکتل شي نو هغه داسي نهٔ ده، له میدانه ورکېدل نهٔ دي. پیدا خیر د غیرت په نوم بائیلل نهٔ دي. وئیل ئې چي په یوازي ځان که هر څو تکړه یې که اولس درسره مل نهٔ ؤ ، پوهه درسره نهٔ وه، خلګ دي خواخوږي نهٔ وو ، خُلهٔ دي په خپل اختیار کښې نهٔ وه، پر هر چا دي ږغ نهٔ کاوهٔ نهٔ شې کولای مځکه زرغونه کړې. که دي د وطن د ابادۍ کار کاوهٔ ږغ به کوې. راشه چي خپل وطن اباد کړو. و ئې پالو. که پر وطن مئین یې له پردیو ئې وژغوره.)

له دې پورتنیو اوولس نکتو پرته هم ځیني داسې الفاظ شته چې په دې څلور واړو املایي بڼو کې په بېلا بېل رنګ لیکل کېږي خو هغه اصلاً املایي توپیرونه نه دي بلکې لهجوي توپیرونه دي چې لیکوالان یې په خپلو لیکونو کې مراعت کوي. د وزیر محمد ګل خان مومند، عبدالصمد خان اڅکزي، قلندر مومند او سعدالله جان برق شخصي املاوې له دې پرته دي. د هغو املایي توپیرونه د پښتو املا په توپیرونو کې نه شي شمېرلای بلکې دا د شخصي املاوو په لړ کې شمېرلای شي.

اوس به دلته د یو جدول په مرسته د اوسني املا دغه څلور بڼې وښیل شي چې توپیر یې واضح شي او که بیا هرکله د املا د معیار ټاکلو او د وحدت دپاره غونډه کېده نو دغه ستونزې به تر وار له مخه په ګوته شوې وي. صرف د حل لارې کتلو اړتیا به یې پاته وي. (د جدول دغه الفاظ د زرین انځور په کتاب « پوهنې د درسي نصاب واحد لیکدود»، د ډاکټر نصرالله جان وزیر کتاب «د

پښتو لیک دود دوه ورځنۍ مرکه» او د محمد معصوم هوتک کتاب «پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه» څخه اخیستل شوي دي. د کوټې د پښتو اکېډمۍ زه پروف ریډر پاته شوی یم ځکه د هغه دپاره مې د کتاب کتلو اړتیا نه کړه محسوسه.)

| د کوټې پښتو اکېډمۍ | کندهار | پېښور(باړه ګلۍ) | د برې پښتونخوا نصاب |
|---|---|---|---|
| کښي | کي | کښې | کې |
| ښځې، ترانې | ښځي، ترانې | ښځې، ترانې | ښځې، ترانې |
| چې، مې، دي | چې، مي، دي | چې، مې، دې | چې، مې، دې |
| ځای، خدای | ځای، خدای | ځاے، خداے | ځای، خدای |
| دوی، هغوی | دوئ، هغوئ | دوي، هغوي | دوی، هغوی |
| وکړی/ وکړو | وکړئ(م. هوتک) | اوکړو | وکړ |
| دی | دئ | دے | دی ( د حکم ټکی) |
| سړی | سړی | سړے | سړی |
| چاړۀ، وانښۀ | چاړه، وانښه | چاړۀ، وانښۀ | چاړه، وانښه |
| خیر، خیبر، میدان | خیر، خیبر، میدان | خېر، خېبر، مېدان | خیر، خیبر، میدان |
| وینا، وئیل، ووئیل | وینا، ویل، وویل | وېنا،وئیل، اووئیل | وینا، ویل، وویل |
| وشو | وسو | اوشو | وشو، |
| وه، ؤ، وو | وه/ ول،وو، ول | وه، وۀ، ــــ | وه، و، وو |
| نۀ شته/ نشته | نسته | نۀ شته | نشته |
| تائید، سی‌مه ای‌ز | تائید، سی‌مه ی‌ی‌ز | تائید، سی‌مه ایز | تایید، سیمه ییز |
| هکله | هکله | حقله | هکله |

| | | | |
|---|---|---|---|
| موږ، غږ، ځمکه | مونږ، غږ، ځمکه | موږ، ږغ، مځکه | موږ، ږغ، مځکه |
| يې(ضمير)، يې | ئې، ئې | ئې، ئې | ئې، يې |
| سږو، پردو | سږو، پردو | سږيو، پرديو | سږيو، پرديو |
| ګل | ګل | گل | ګل |
| خوله | خولۀ | خوله | خُلۀ |

پايله: د پښتو املا دغه اوسنۍ څلور بڼې د برې پښتونخوا د درسي نصاب املا، د پېښور د باړه ګلۍ املا، د کندهار املا او د کوټې د پښتو اکېډمۍ املاوې دي. دغه املاوې موږ د ظرفيت د ټکي(کې)، د ښځينه نومونو په جمع کې د (ې/ي) کارونې، د ربط د الفاظو (چې، مې، دې)، د (الف) او (واو) غبرګ غږونه او د حکم ټکی (دی) ، (ء)، (ی)، (ګ)، د زورکي علامت، د (ش) او (س) د استعمال، د پېښن پر ځای د (و) استعمال، د لهجو د نماينده الفاظو غږ، ږغ...، د (ئې) او (يې) په توپير او د ( الف) په کارونه سره بېلوو.

د برې پښتونخوا د درسي نصاب په املا کې د ظرفيت ټکی (کې) ، د ښځينه نومونو جمع په (ې) لکه ښځې، سترګې او د ربط ټکي (چې، مې ، دې) ليکل کېږي. د نرمې ېې ( د واحد نرينه نوم دپای ېې) علامت ېې (ې) دی، د لفظ په منځ کې (ی) په (ي) خير، خيبر، غيرت ليکي. د (الف) او (واو) غبرګ غږونه او د حکم ټکی (دی)هم په دغه (ی) ځای، دوی، هغوی، او دی ليکي. د ټکي په منځ کې د (ء) پر ځای (ي) ليکي لکه پای‌له، قايم. او د ټکي په پای کې کله (ء) ليکي او کله نه لکه علماء، انتها. (ګ) په دوه کښه (ګ) ليکي. د ټکي په پای کې د (زور) او (زورکي) توپير نه کوي دواړه په (ه) ليکي. په کومکي فعلونو کې د (ش) استعمال کوي او شو، شي، شول ليکي. د پښتو هغه الفاظ چې پېښن لري هغه په (و) خوله، غوندې، ګوند ليکي. ځمکه، غږ او موږ ليکي. د (ئې) او (يې) توپير نه کوي بلکې دواړه په (يې) ليکي.

د پېښور د باړه ګلۍ په املا کې د ظرفيت ټکی (کښې) ، د ښځينه نومونو جمع په (ې) لکه ښځې، سترګې او د ربط ټکي (چې، مې ، دې) ليکل کېږي. د نرمې ېې ( د واحد

نرینه نوم دپای ی‌ې) علامت ی‌ې (ے) دی او د لفظ په منځ کې ی‌ې په (ې) خېر، خېبر، غېرت لیکي. د (الف) او (ی) غبرګغږ او د حکم ټکی (دی)هم په دغه (ے) ځاے، دے لیکي خو د (واو) او (ی) غبرګ غږونه (ي) دوي، هغوي لیکي. د ټکي په منځ او پای کې د (ء) استعمال کوي لکه پائله، قائم، علماء. (ګ) په کړی (ګ) لیکي. د ټکي په پای کې د (زور) او (زورکي) توپیر کوي (زور) په (ه) او (زورکی) په (ۀ) لیکي. په کومکي فعلونو کې د (ش) استعمال کوي او شو، شي، شول لیکي. د پښتو هغه الفاظ چې پېښن لري هغه په (و) خوله، غوندې، ګوند لیکي. څمکه، غږ او مونږ لیکي. د (ئې) او (یې) توپیر کوي. د لفظ په پیل کې که (و) راشي او زورکی ولري نو (الف) ورسره اضافه کوي لکه اووئیل، اوشو، اوکړه.

د کندهار په املا کې د ظرفیت ټکی (کي) ، د ښځینه نومونو جمع کله په (ي) لکه ښځي، سترګي او کله په (ې) لکه کوځې ترانې وي. د ربط ټکي (چي، مي ، دي) لیکل کېږي. د نرمې ی‌ې ( د واحد نرینه نوم دپای ی‌ې) علامت ی‌ې (ی) دی، د لفظ په منځ کې (ی) په (ي) خیر، خیبر، غیرت لیکي. د (الف) او (واو) غبرګ غږونه په (ی) ځای، دوی، هغوی لیکي خو د حکم ټکی (دی) په (ئ) دئ لیکي. د ټکي په منځ کې د (ء) پر ځای (ي) لیکي لکه پایله، قایم. او د ټکي په پای کې کله (ء) لیکي او کله نه لکه علماء، انتها. (ګ) په دوه کښه (ګ) لیکي. د ټکي په پای کې د (زور) او (زورکي) توپیر نه کوي دواړه په (ه) لیکي. په کومکي فعلونو کې د (س) استعمال کوي او سو، سي، سول لیکي. د پښتو هغه الفاظ چې پېښن لري هغه په (و) خوله، غوندي، ګوند لیکي. مځکه، ږغ او موږ لیکي. د (ئې) او (یې) توپیر کوي لومړی ی‌ې (ضمیر) او دویم ی‌ې (کومکي فعل) دی.

د کوټې د پښتو اکېډمۍ په املا کې د ظرفیت ټکی (کښي) ، د ښځینه نومونو جمع کله په (ي) لکه ښځي، سترګي او کله په (ې) لکه کوځې ترانې وي. د ربط ټکي (چي، مي، دي) لیکل کېږي. د نرمې ی‌ې ( د واحد نرینه نوم دپای ی‌ې) علامت ی‌ې (ی) دی، د لفظ په منځ کې (ی) په (ي) خیر، خیبر، غیرت لیکي. د (الف) او (واو) غبرګ غږونه او د حکم ټکی (دی)هم په دغه (ی) ځای، دوی، هغوی، او دی لیکي. د ټکي په منځ کې د (ء) استعمال کوي لکه پائله، قائم او د ټکي په پای کې کله (ء) لیکي او کله نه لکه علماء، انتها. (ګ) په کړی (ګ) لیکي. د ټکي په پای کې د (زور) او (زورکي)

توپیر کوي (زور) په (ه) او (زورکی) په (ۀ) لیکي. په کومکي فعلونو کې د (ش) استعمال کوي او شو، شي، شول لیکي. د پښتو هغه الفاظ چې پښښ لري هغه کله په (و) غوندې، ګونداو کله په پښښ خُلۀ لیکي. مځکه، ږغ او موږ لیکي. د (ئې) او (يې) توپیر کوي لومړی يې (ضمير) او دویم يې (کومکي فعل) دی.

# حوالې


1. پښتو د شپږم ټولګي ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست،کابل، ۱۳۹۸ ،۳م مخ
2. هم دغه اثرو ۱۳م مخ
3. پښتو دولسم ټولګی، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست،کابل، ۱۳۹۸ ، ۴۶م مخ
4. پښتو اتم ټولګی، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست،کابل، ۱۳۹۸ ، ۱۸ م مخ
5. وزیر، ډاکټر، پروفېسر نصرالله جان، د پښتو لیک دود ، دوه ورځنۍ مرکه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۸ع، ۱۹م مخ
6. هم دغه اثر، ۲۱م مخ
7. طائزے، ډاکټر شیر زمان، د پښتو لیک دود او املاء سرسري جاج،کامل پښتو ادبي جرګه، نوښار، پښتونخوا ،۲۰۰۵ع، ۲۰م مخ
8. وزیر، ډاکټر، پروفېسر نصرالله جان، د پښتو لیک دود ، دوه ورځنۍ مرکه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۸ع، ۵۶م مخ
9. حکمتیار، پښتو لیکدود ، افغانستان، غبرګولی ۱۳۸۸ش، ۲۲م مخ
10. هوتک، محمد معصوم، پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه،علامه رشاد خپروندویه ټولنه، کندهار، دویم چاپ، ۲۰۱۱ع، ۱۴۰م مخ
11. حکمتیار، پښتو لیکدود ، افغانستان، غبرګولی ۱۳۸۸ش، ۲۴م مخ
12. ایضاً
13. مدیر اعلی(سید خیر محمد عارف) لیکني(جنوري-مارچ ۲۰۲۱)، اداریه،پښتو اکېډمۍ کوټه، ۹ م مخ